مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اڅړ
۲۰۲۶/۰۹/۱۷

# لر او بر پښتانه او د پاکستان انګرېزي پالیسي

(درېدېرشمه برخه)



(جنرال راحیل شریف)

## پنجابی پوځ: جوړښت، شالید او کودتاګانې(۲۹)

## له څلورو هندي مهاجرو جنرالانو وروسته، د پاکستان د پوځ ستردرستیزان (۲)

## جنرال راحیل شریف: (له ۲۰۱۳ څخه تر ۲۰۱۶ز. کال پورې)

### د ضرب عضب عملیاتو پر وړاندې غبرګونونه

د ضرب عضب عملیات چې د ۲۰۱۴ز. کال د جون په ۱۵مه نیته، د پاکستان د پوځ لهخوا د تحریک طالبان پاکستان (TTP) او نورو وسلهوالو ډلو د ځپلو په موخه پیل شوي وو، د ۲۰۱۵ز. کال له جون وروسته خپل وروستي او د وزیرستان د شوال درې غونډې سختو سیمو ته ننوتل او تر ۲۰۱۶ز. کال پورې په وزیرستان کې په جدي توګه روان وو چې وروسته د ۲۰۱۷ز. کال په فبرورۍ کې د **(ردالفساد)** په نوم عملیات وغځېدل.

د خپلواکو راټولو شوو مالوماتو پر بنسټ، د ۲۰۱۷ز. کال تر جنورۍ پورې ۲۵۶۳ وسلهوال او ۲۳۲ پاکستاني عسکرو وژل ثبت شوي دي خو د ملکي وګړو د تلفاتو شمېر شتون نه لري.[1]

[1]:https://www.satp.org/satporgtp/countries/pakistan/waziristan/index.html?utm_source=chatgpt.com



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپلې لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

دا ډېره حیرانوونکې ده چې پاکستاني پوځ د ضرب عضب د مرګـژوبلې په اړه یوازې د ټيټيپي او اړونده وسلهوالو ډلو او خپلو عسکرو د تلفاتو راپوورونه خپاره کړي چې په هغو کې يې افراط او تفريط هم کړی دی خو د وزیرستان د عامو خلکو د مرګـژوبلې هېڅ ډول مالومات يې نه دي خپاره کړي. آيا دا شوني ده چې په کلیو او ښارونو کې د پوځ او ټيټيپي وسلهوالو تر منځ جګړې کيږي او عام وګړي په کې ونه وژل شي؟ **لکه څرنګه چې اسراييلي صهيونستان (هر بېوسلې فلسطيني وګړی، (ښځې او ماشومان) خپل دښمنان او د هغوی وژل واجب بولي) دا ډول، پاکستاني پوځ هم د وزیرستان ټول وګړي خپل دښمنان ګڼي، دا وجه ده چې د پوځ خبري رسنيو په وزیرستان کې د بېوسلې وګړو، (ښځو او ماشومانو وژل) د ټيټيپي په وسلهوالو کې شمېرلي چې په ۲۰۱۷ز. کال کې پاکستاني پوځ اعلان وکړ چې ۳،۵۰۰ تنه د ټيټيپي کسان يې وژلي دي.**
سره له دې چې په شمالي وزيرستان کې د وسلهوالو د ځپلو له امله په پاکستان کې د وسلهوالو په بريدونو کې لنډمهالې کمی راغی خو د دغې آرامی تر شا د پاکستان لپاره یوه لویه تباهي پټه وه چې د وخت په تېريدو سره ټيټيپي وسلهوال نور هم ځواکمن او په امن کې شول، د شمالي وزيرستان ډېری اوسيدونکي د خوست او پکتيکا ولايتونو ته کډه شول او ځيني يې بنو او نورو سيمو ته ولاړل.
په وزيرستان کې د دوی استوګنځايونه د پاکستاني پوځ لهخوا تر ډېره په قصدي توګه ويجاړ شول چې له امله يې د وزيرستان وګړو کرکه او کينه، د پاکستاني پوځ پر وړاندې لاپسې زياته شوه، دا د جنرال شريف د ضرب عضب د تيري پايله وه، هغو وزيرستانيو کډوال چې له پاکستاني پوځ سره يې جګړې نه کولې، د پاکستان د پوځ پر وړاندې يې وسله پورته کړه چې نن ورځ يې پاکستاني پوځ تر ستوني رسولی، پنجابي پوځ چې د پښتنو مجاهدينو د بريالیو بريدونو پر وړاندې بېوسه او ناچار دی، په خوست، پکتيکا او نورو سيمو کې د کډوالو پر پنډغالو هوايي او راکټي بريدونه کوي چې پرته له ښځو او ماشومانو بل څوک نه شي وژلی.

د جنرال شريف د دندې پر مهال، د کابل او اسلامآباد د مشرانو سفرونه او ليدنې کتنې رواني وې، راحيل شريف د درو مياشتو په اوږدو کې دوه ځله کابل ته سفر وکړ.
جنرال شريف د دې لپاره چې امريکايانو ته وښيي چې هغه کولی شي له روسانو سره هم پوځي همکاري ولري، له روسيې سره د پاکستان لومړني ګډ پوځي مانوروونه ترسره کړل.[2] او له چين سره يې هم خپلې اړيکې لا ژورې کړې او له امريکا سره يې خپلې اړيکې بېرته ورغولې.

جنرال شريف د پاکستان د کورني دفاعي صنعت له پراختيا سره مرسته وکړه چې د يو نيم کال په موده کې د پاکستان لپاره د ۱.۱۴ ميليارده ډالرو[؟] څخه د زياتو بهرنيو اسعارو د سپما لامل شو.

پاکسانيو سياستوالو او پوځيانو چې د ترهګرۍ په نوم جګړه کې يې، په افغانستان کې د ناټو چاروکي، په ځانګړي توګه امريکايان، د ماشومانو په څېر غولول، د ضرب عضب د عملياتو په اړه امريکايي چاروکي ته ويل شوي وو چې ګواکې په شمالي وزيرستان کې يې د ټولو وسلهوالو طالبانو او القاعدې پر خلاف جګړه کړې ده او د حقاني ډله يې هم ځپلې ده. په داسې حال کې چې د حقاني وسلهوالو پر خلاف يې يو ګام هم نه ؤ پورته کړی.

[2]: *https://scroll.in/article/817963/will-russia-lose-its-goodwill-in-india-by-conducting-military-exercises-with-pakistan*


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

هغه وو چې جنرال راحیل شریف واشنګټن ته په خپلو رسمي سفرونو کې د امریکا د دفاع وزیر **(اشټن کارټر)**، د (CIA) مشر او نورو لوړپوړو جنرالانو سره وکتل، هغوی د القاعدې پر ضد د دغو عملیاتو د لاسته راوړنو ستاینه وکړه.

په افغانستان کې د امریکا او ناټو ځواکونو لوړپوړي قوماندان، ډګر جنرال **(جوزف انډرسن)** په کابل کې د پنټاګون له خوا په یوه جوړه شوي ویډیویي خبري غونډه کې وویل: **«د ضربِ عضب عملیاتو د حقاني شبکې هغه وړتیا کمزورې کړې چې په افغان خاوره کې بریدونه ترسره کړي ځکه چې د حقاني شبکه اوس وېشل شوې هم ده.»**[3]
جوزف انډرسن زیاته کړه:«دې کار په افغانستان کې د هغوی هڅې تر ډېره ګډې وډې کړي او د دې وړتیا یې کمه کړې چې په کابل کې برید ترسره کړي.»[4]

بلې خوا یو شمېر پاکستانیو ملایانو چې له آره د انګرېز استعمار، راپه دېخوا روزل شوي او اوسمهال د پاکستان د استخباراتو لهخوا تمویل او د بانکي چرګانو غوندې ساتل کېږي. **د ۲۰۱۴ز. کال د جون په ۲۲مه نېټه، له ۱۰۰ څخه زیاتو ملایانو د ضرب عضب عملیات (چې د جګړې هوایي بمبار د امریکا او پاکستان ګډ مسؤلیت وو) پر ملاتړ یوه ګډه فتوا صادره کړه او دغه عملیات یې جهاد وبلل. په فتوا کې ویل شوي وو: «په یو اسلامي هېواد کې د سولې د چاپېریال د ګډوډولو د هڅو مخنیوی او ځپل جهاد دی.»**[5]

لکه څرنګه چې په پاکستان کې د ټيټيپي ډله چې د ضرب عضب عملیاتو له امله له خپلو استوګنځایونو بېځایه شوي وه، د پاکستان او امریکا جنرالانو فکر کاوه چې نوموړي ډله یې کمزوري کړي چې نور د بریدونو ځواک نه لري. ټيټيپي ډلې چې پرته له سپکو وسلو یې نور څه نه لرل، د جګړې پر مهال یوازې له خپلو سپکو وسلو سره په شا شول خو هماغه پخوانی ځواک یې پاتې ؤ چې هغه ځواک د دوی سرتېري (ځانمرګي) کسان وو. ټيټيپي او اړونده وسلهوالو ډلو، د ضرب عضب د عملیاتو په ځواب کې ډېر سخت خونړي بریدونه وکړل، ټيټيپي خپلو دغو غچاخیستونکو عملیاتو ته د **(ضرب مومن)** نوم ورکړ، د ضرب مومن لومړی برید، په ۲۰۱۴ز. کال د سپټمبر په ۶مه نېټه د کراچۍ په (ویسټ وارف) سیمه کې پر پوځي سمندري اډه باندې وشو، برید کوونکو غوښتل سمندري بېړۍ یرغمله کړي خو دا برید تر ډېره بریالی نه ؤ. د پاکستان د پوځ پر وینا، یوازې یو افسر ووژل شو، یو تن افسر او ۶ تنه عسکر ټپیان شول، دوه تنه برید کوونکي ووژل شول او ۴ تنه نور ونیول شل. **ټيټيپي د برید مسؤلیت ومانه، ګوتڅنډنه یې وکړه چې دا د بریدونو پیل دی.**

د کراچۍ له برید وروسته ټيټيپي تر ټولو دوه وژونکي او زړهبوږنوونکي بریدونه وکړل، لومړی برید **«د ۲۰۱۴ز. کال د نومبر په ۲مه نېټه، په پاکستان کې پر (واګه) پوله، د هند او پاکستان، د ورځنۍ دودیز پوځي پرېډ وروسته یو ځانمرګی برید ؤ چې په دغه برید کې له ۵۵ ډېر کسان ووژل**

---

[3]:http://tribune.com.pk/story/786641/us-commander-commends-zarb-e-azb-for-disrupting-haqqani-networks-ability-to-target-afghanistan/
[4]:https://www.dawn.com/news/1142664/
[5]:http://paktribune.com/news/Ulema-declare-operation-Zarb-e-Azb-as-jihad-269863.html


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولئ

**شول او له ۲۰۰ څخه ډېر ټپیان شول.»**[6] د برید مسؤلیت د جماعت‌الاحرار او جندالله وسله‌والو ډلو ومانه چې دواړه د تحریک طالبان پاکستان (TTP) فرعي ډلې بلل شوي دي.

څو ورځې وروسته، د همدې کال د ډسمبر په ۱۶مه نېټه، د ټي‌ټي‌پي اړوند اوو تنو وسله‌والو د پاکستان د پېښور ښار یوې پوځي ښوونځي (Army Public School) ته ننوتل او پر ښوونکو او زده‌کوونکو یې ډزې پیل کړې. **په دې برید کې ۱۴۵ کسان ووژل شول چې ډېری یې زده‌کوونکي وو. د ټي‌ټي‌پي ویاند محمد عمر خراساني د برید مسؤلیت ومانه، ویې ویل: دا برید د ضربِ عضب عملیاتو په غچ کې ترسره شوی دی.**[7]
پر پوځي ښوونځی باند برید، د ټي‌ټي‌پي د مشر ملا فضل‌الله له‌خوا وستایل شو او د پاکستان پوځ یې یو مرتد او مزدور پوځ وباله.

بلې خوا د ټي‌ټي‌پي دغه خونړی برید چې تر ډېره زده‌کوونکي ماشومان په کې ووژل شول، ډېرو هېوادونو یو ترهګر او ناوړه عمل وباله.

د تحریک طالبان پاکستان، د غچاخیستونکو بریدونو په ځواب کې، پاکستان د TTP پر وړاندې تر ټولو سخت غبرګون ښکاره کړ،«د پاکستان پارلمان د اساسي قانون یوه ماده تصویب کړه چې پر بنسټ یې پوځي محکمو ته اجازه ورکړل شوه، هغه کسان محاکمه کړي چې په ترهګرۍ تورن وي.» [8] **او د ولسمشر د یو فرمان پر بنسټ، د ټي‌ټي‌پي پر وسله‌والو د اعدام ځنډول پای ته ورسیدل. پوځي محکمې یې جوړې کړې چې جوړښت یې د ګوانتانامو د پوځي کمیسیونونو په څېر ؤ. پاکستانیو چارواکو د هېواد په کچه د زندانونو مسؤلینو ته د محکومو طالبانو د اعدام حکمونه ورکړل. چې په څو اونیو کې یو شمېر لوړپوړي ټي‌ټي‌پي بندیان چې د ترهګرۍ په تور محکوم شوي وو، اعدام شول.**

جنرال راحیل شریف د خپل کار په وروستیو (۲۰۱۶ز. کال) کې د لر او برو پښتنو د جدایي په موخه یو بل نه بښل‌کېدونکی جرم ترسره کړ، **هغه د امریکایانو په مالي مرسته پر ډیورند کرښه د اغزن تار د غځولو د پلان اعلان وکړ** چې په ځینو سیمو کې عملاً کارونه پیل شول. چې دا له ټولو پښتنو سره د جنرال شریف تر ټولو لوی دښمنانه عمل ؤ.

**د ۲۰۱۶ز. کال د می میاشتي پر ۲۱مه نېټه امریکایي بې‌پیلوټه الوتکې د بلوچستان په نوشکی سیمه کې د طالبانو پخوانی مشر ملا (اختر محمد منصور) په نښه کړ.**
پاکستانیو استخباراتو چې د طالبان مشر په وژلو کې یې له امریکایانو سره مرسته کړې وه، د دې لپاره چې پاکستاني چارواکي پړه په امریکایانو واچوي او په دې توګه ځانونه ناخبره وښیي، د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر او جنرال راحیل شریف دغه برید په کلکه وغانده او هغه یې د پاکستان پر حاکمیت

[6]:http://indianexpress.com/article/world/world-others/at-least-55-killed-200-injured-in-bomb-blast-at-wagah-border-in-pakistan/
[7]:https://web.archive.org/web/20141218181927/http:/www.pakistantoday.com.pk/2014/12/16/national/militants-attack-peshawar-school-five-students-injured/
[8]: https://www.bbc.com/persian/world-38093236


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په خیر و لولئ

تېرى وباله. په داسې حال کې چې پاکستانيو چارواکو امريکايانو ته (د ترهګرۍ پر وړاندې د جګړې) په نوم دننه په پاکستان کې څو هوايي ډګرونه په واک کې ورکړي وو.[9]
هغه مهال، ما (ليکونکی) د ملا اختر محمد منصور د وژلو د څرنګوالي په اړه يوه تحليلي ليکنه **(ملا اختر محمد منصور چا ووژه؟)** ليکلې وه چې ځينې اړينې برخې يې رااخلم:
وروسته له ژور تحليل او تجزيې څخه دې پايلې ته ورسيدو چې ملا اختر محمد منصور د خپلو ملګرو او د افغانستان د دښمنانو لهخوا وژل شوی دی، دغه د طالبانو بېوفا ملګري او د افغانستان پدري دښمنان څوک دي؟ د دې پوښتنې په ځواب زموږ پنځه کلن ماشوم هم پوهيږي چې د افغان ولس دښمن، (چې هېڅکله به دوست نه شي) د پاکستان پوځ او پوځي استخبارات دي خو له بده مرغه چې طالبانو او يو شمېر نورو ډلو ټپلو دغه ناځوانه دښمن ونه پېژاند چې د خپلو ناپوهيو له امله، د خپل دښمن په خدمت کې دي، سره له دې چې ډېر خدمتونه يې ورته وکړل، خپل هېواد يې وران او هېوادوال يې ووژل خو په پای کې د خپلو خدمتونو په بدل کې، په بېلا بېلو طريقو له منځه يوړل شول. **طالبان په دې نه پوهيږي چې دوی د دښمن هېواد، د استخباراتو په لاس کې لوېدلي دي،** دا د تولي نړۍ د استخباراتو بنسټيز اصول دي چې هغه کسان، ډلې، بانډونه او هېوادونه چې دوی يې د خپلو مخالفينو پر وړاندې استعمالوي، په پای کې د خپلو ګټو او اړتياوو لپاره يې له منځه وړي. چې ښې بېلګې يې، سربېره پر ملا اختر محمد منصور، د اسامه بن لادن وژل دي.
**زه په ډاګه وايم چې ملا منصور د پاکستان د آی‌ايس‌آی سازمان د هغو کړيو په مرسته وژل شوی دی چې د امريکا د سي‌آی‌ای لهخوا استخدام شوي دي،** په دې دليل چې ملامنصور نور د پاکستان د استخباراتو له لاسه وتلی ؤ، له ايران او روسيې څخه يې مرستې تر لاسه کولې، د دغې ادعا د ثبوت لپاره دا ښه بېلګه ده چې د ملا منصور د وژلو په اړه د روسانو غبرګون، دا ښيي چې نوموړی د دوی او ايرانيانو سره په اړيکه او تفاهم کې ؤ.
موږ طالبانو ته وړاندوينه کوو چې که خپل اصلي دښمن ونه پېژني او ځانونه ترې خلاص نه کړئ نو د ملا منصور په شان به ستاسو ټول لوړپوړي چارواکي د پاکستان د پوځ لهخوا وژل کېږي او افغان طالبانو ته دا هم وايو چې په افغانستان کې جګړه بس کړئ، تاسو تر دې ځايه جګړه وکړه چې خارجيان مو سولې ته اړ کړل، ستاسو هدف تر دغه ځايه پورې بايد وي، نه چې جګړې ته دوام ورکړئ، شوني نه ده چې په زور باندې په ټول افغانستان کې حکومت تر لاسه کړئ، **د دې پر ځای چې خپل ځانونه او د افغان پوځ ځوانان (چې ستاسو زامن، وروڼه دي) ووژنئ، خپل جګړه‌ييز عمليات د پاکستان پوځ پر خلاف ترسره کړئ.**
د پاکستان استخباراتو يوازې ملامنصور نه دی وژلی بلکې بې‌شمېره لوړپوړي طالبان يې د تېرو کلونو په اوږدو کې، پر امريکايي استخباراتو پلورلي او هم يې پخپلو جيلونو کې بنديان او وژلي دي.

د ضرب عضب د عملياتو پر مهال، د پوځ رسنيزې څانګې د جنرال شريف د سياسي حيثيت د پياوړتيا لپاره پراخ تبليغاتي کمپاين پيل کړی ؤ، د هغه هر ګام او حرکت يې په رسنيو کې خپراوه... .
**د پوځ تبليغات تر دې کچې لوړ شول چې د جنرال شريف د سياسي حيثيت د لوړولو لپاره د سندرو، ترانو او فلمونو په جوړولو او خپرولو لاس پورې کړ.**[10]

---

[9]: د ډېرو مالوماتو لپاره د ليکنو ۲۵مه برخه ولولئ.

[10]: https://www.bbc.com/persian/world-38093236


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

نوموړی په پراخه کچه په هېواد کې د ترهګرو بریدونو د کمولو له امله وستایل شو، په پاکستان کې تاؤتریخوالی له ۲۰۰۶ز. کال راهیسې تر ټولو ټیټې کچې ته راټیټ شو او د هغه د دندې پر مهال ترهګریز بریدونه په ټولیزه توګه ۷۰ سلنه راکم شول. [11]

په پای کې جنرال راحیل شریف د ۲۰۱۶ز. کال، د نومبر په ۲۹مه نېټه، په داسې حال کې تقاعد شو چې د ضرب عضب، د عملیاتو له امله او د خپل واک د ساتلو په موخه یې پر ملکي حکومت کودتا، یا بل ناقانونه کار ونه کړ، په پاکستان کې یې درناوی او ستایل کېده. پر ځینو دیوالونو او د لویو باروړونکو موټرو پر شا د هغه لوی، لوی انځورونه نښلول شوي وو، په خواله رسنیو کې یې هم ستایل روان وو. هغه د ملت ژغورونکی او (د پاکستاني پوځ محبوب قوماندان) یادېده. [12]

نوموړی جنرال چې د سیمې هېوادونو په کچه هم پېژندل شوی ؤ، د ۲۰۱۷ز. کال د جنورۍ په ۶مه نېټه د ۴۱ اسلامي هېوادونو لخوا چې د ترهګرۍ پر وړاندې یې د اسلامي ایتلاف یو ګډ پوځ جوړ او مرکز یې په سعودي عربستان کې ؤ، د قوماندان په توګه غوره کړای شو.» [13]

شاوخوا دوه کاله وروسته جنرال راحیل شریف له دغه مقام څخه استعفا وکړه. جنرال شریف د یمن په جګړه کې، د خپلو عربو پوځي قوماندانانو ترمنځ د اختلافاتو له رامنځته کېدو وروسته، له عربي ایتلاف سره له همکارۍ ډډه وکړه. [14]

زما په اند، جنرال شریف په دې پوه شوی ؤ چې په یمن کې د حوثي وسلهوالو پر وړاندې جګړه نه شي کولی او نه یې ماتولی شي نو ورو، ورو یې د ایتلاف له ځینو عربي قوماندانانو سره اړیکې خرابې کړې او د ځان د ګوښه کولو په موخه یې پلمه رامنځ ته کړه.
موږ وینو چې د یمن حوثي سرتېري (چې د ایران له ملاتړه برخمن دي) له اسراییلو او امریکایانو سره نر په نره ډغرې وهي، پاکستاني جنرالان او پوځیان چې له آره یو ناکام او مغلوب پوځ دی او څو ځله یې له هندوانو سره په جګړو کې ماتې خوړې ده، نه شي کولی د یمن له حوثي سرتېرو سره جګړه وکړي.

لنده دا چې دا لیکنه په دې پای ته سوو چې که **جنرال راحیل شریف د پاکستانیانو لپاره یو اتل دی خو زموږ افغان ولس، په تېره بیا، د لرو او برو پښتنو لپاره یو ناځوانه دښمن دی، جنرال شریف د خپلې دندې تر پایه، (لکه د پاکستان د نورو پوځي چارواکو په څېر) له افغانستان او له کوزو پښتنو سره دښمني وپالـله،** هغه پر افغانستان یوه زره باور ونه کړ، حال دا چې ولسمشر اشرف غني، وروسته له هغې چې د افغانستان ولسمشر وټاکل شو، په ۲۰۱۴ز. کال د نومبر په ۱۴مه نېټه، د پاکستان په راولپنډۍ کې د پوځ مرکز ته ولاړ او له جنرال راحیل شریف سره یې د زړه له اخلاصه صادقانه خبرې وکړې. (چې د ولسمشر غني دا ډول لیدنه له سیاسي اصولو سرغړونه وه.)

11: http://tribune.com.pk/story/953303/over-last-9-months-70-decline-in-terrorist-attacks-in-pakistan/
12: https://www.bbc.com/pashto/world-38121639
13: https://arab.news/2bxtc
14: https://www.jomhornews.com/fa/news/94899/


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولۍ

پاکستان ته د ولسمشر اشرف غني، په دغه دوه ورځني سفر کې، **هغه په راولپنډۍ کې د پوځ په مرکز (GHQ) کې د پاکستان د وژل شويو پوځيانو پر يادګاري څلي باندې د ګلونو ګېډۍ کېښودله او فاتحه يې وکړه.** اشرف غني په دې کار سره د پاکستان د پوځيانو جګړه د پښتنو سرتېرو پر وړاندې په حقه وبلله.

له پاکستانيو چارواکو سره په دې ليدنو کې، د پاکستانيانو لومړۍ غوښته دا وه چې د افغانستان د ملي امنيت عمومي رييس انجنير **(رحمت الله نبيل)** دې له دندې ګوښه کړای شي، دوی فکر کاوه چې له ټي‌ټي‌پي او بلوخ سرتېرو سره د افغانستان ملي امنيت مرستې کوي. مفکر صاحب اشرف غني له هر څه لومړی د پاکستان په غوښتنه د ملي امنيت مشر له دندې ګوښه کړ.

ولسمشراشرف غني چې د نړۍ دويمه درجه مفکر ؤ، فکر يې ونه کړ چې پخواني ولسمشر حامد کرزي له پاکستان سره د اړيکو د عادي کيدو او د ښه ګاونډيتوب په موخه پاکستان ته ۲۰ ځله سفرونه کړي وو، له بده مرغه چې پاکستاني چارواکي له خپل دښمنانه دريځه وانه وښتل.



(د پاکستان د پوځ لخوا د شمالي وزيرستان د ميرعلي بازار ويجاړی)

نېټه: ۱۴۰۵/۶/۲۱ل. ل

**نور بيا**



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ